په اروپا کی دمیشته افغانانو د ټولنو فدراسیون
فدراسیون سازمانهای افغانهای مقیم اروپا
Federation of Afghan Resident Organizations in Europe

# بلنه

## د خپلو خلکو غږ نړېوالو ته ورسوو!

وطنپاله هېوادوالو،

د امریکې متحده ایالتونو زمونږ هېواد د خپل مریه دولت پاکستان سره یوځای زمونږ د زخمي هېواد او بلالېدلو خلکو برخه لیک د یوه تر مخه ټاکل شوي پلان پر بنسټ د جنګي جنایتکوونکو طالبانو په لاس کې ورکړ او خپله ګواکې وتښتول. اوس هم د خپلو درواغجنو رسنیو له لارې درواغ خپروني کوي، چې ګواکې طالبانو د کېسو اټل په شان دوی او د دوی په لاس جوړ شوی حاکمیت په را وپرځاوه. دوی په دی توګه غواړي له طالبانو څخه اتلان وتراشي.

اوس هم د غرب ځیني مغرضې رسنې او تش په نامه افغانستان پېژندونکي د خپلو خلکو د غولولو لپاره حقایق جعل کوي، چې ګواکې د افغانستان خلک طالب فکره دي او طالبان ګواکې د ولسي ملاتړ پر بنسټ وتوانېدل په دې چټکتیا سره ولسوالۍ، ولایتونه او پلازمېنه کابل ونیسي. طالبانو چې په شلو کلونو کې بریالي نشول، یو ولایت تصرف کړي، څنګه شوني ده، چې د یوې میاشتې څخه کمې مودې په ترڅ کې بشپړه هېواد ونیسي؟ روښانه ده، چې د امریکې او پاکستان د افغان دولتي دستګاه په منځ کې خپلو چوپړانو ته پرمان ورکړ، چې دتسلیم کیدو بند و بست وکپې، تر څو زمونږ له هېواد د نیابتي جګړو ډګر وګرځوي.

با احساسه هېوادوالو،

که زمونږ زړه زمونږ په وینو لړلو خلکو له زړونو سره یو ځای دېړیږي، باید اجازه ورنکړو، چې امریکا بریالي شي او د نړۍ خلکو سترګو ته خاورې وشیندي او حقایق قلب کړي! مونږ باید د خپل هېواد د رښتینو بچیانو په توګه په اروپا، امریکې، کانادا او نورو هېوادو کې د سراسري لاریونونو په ترسره کولو سره د خپلو غم ځپلو هېوادوالو غږ نړېوالو ته ورسوو. او د امریکایي او پاکستانی استخباراتو او د هغو د ملاترو جفا څرګنده کړو.

راځئ، چې د سپتمبر په ۱۱ مه نېټه، په هغه ورځ، چې زمونږ د سیمي او په ځانګړې توګه زمونږ تر ځانه ګران هېواد باندې د یرغل، ورانۍ او په خاورو او وینو لړلو لامل شوې، د اروپا، امریکې او نورو هېوادونو د تابعو څخه په بلنې سره په هم مهاله مظاهرې لاس پورې کړو او زباته (ثابته) کړو، چې زمونږ ولس مړ نه دی او نه یې هم بچیانو د هېواد نه بهر خپل بلا لېدلي خلک او هېواد هېر کړي. راځئ په دې ورځ ټولې ملاحظې او توپېرونه څنګ ته کړو، د هېواد او خپلو خلکو په خاطر په خپل ګډون سره د مغرضه یرغلګرو پر ضد مظاهره لا پرتمینه کړو .

د ډېرو مالوماتو او د اعتراضاتو له هماهنګولو لپاره په faroe_af@hotmail.com ایمیل له لارې زمونږ سره اړیکې ټینګې کړئ.

د ټولنو او اشخاصو سره د هوکړې څخه وروسته د بل بلنلیک له لارې به ډېر جزئیات او لا دقیق مالومات درسره شریک کړو.

په اروپا کی د میشته افغانانو د ټولنوفدراسیون (فارو)

د ۲۰۲۱م کال د اګوست ۱۸مه